# د پښتونخوا مقدمه

غني خټک

د صوبه سرحد دپاره کۀ پښتانۀ د پښتونخوا نوم غواړي او دا خپل درست قومي او تاريخي نوم ګڼي په بل لور د دې نوم د مخالفانو خدائے خبر ولې دا نوم د ځان دپاره بلا ګڼلې ده. هغوي وائي چې مونږ هم غواړو چې د صوبه سرحد دې مناسب نوم وي خو د هغوي مناسب نوم هغه دے کوم چې هغوي په پښتون ورتپل غواړي د دې مضمون چاپ کېدو پورې امکان دے چې د پښتونخوا مخالفان به نور هم راښکاره شوي وي او د عوامي نېشنل پارټۍ او پاکستان مسلم ليګ (ن) مشرانو ترمينځه به ملاقات هم شوے وي او د مسلم ليګي قيادت موقف به نور ښۀ واضحه شوے وي خو امکان دا دے چې مسلم ليګ (ن) او (ق) دواړه به خپل مخالفت، خپل ضد او د پښتون دپاره خپله ناخوښه او کرکه نوره راښکاره کړي، دا ځکه چې مسلم ليګ همېشه راسې د "مائي باس" سياست کړے دے او د مسلم ليګ مخالفت اصل کښې د پاکستان د مقتدره قوتونو د مخالفت ثرګندونه کوي، ځکه داسې ښکاري چې د پښتونخوا مخالفت به نور زيات زور مومي او دا مخالف قوتونه به آئين کښې د ترميمونو تجويز کولو په بابله پارليماني کميټي هم د پښتونخوا په بابله په دوېم سوچ مجبوره کړي او کۀ په آئيني ډول د صوبه سرحد نوم پښتونخوا نه اړولو باندې بحث شروع شي دا به ډېر تريووالي او بې خوندی، ته ووځي او داسې بې خوندی، کښې هر څۀ کېدے شي. داسې ښکاري لکه چې د پښتونخوا نه به د پاکستان دپاره د مرګ او ژوند مسئله جوړولې شي. د دې مقصد به دا وي چې پاکستان هله ژوندے پاتې کېدے شي چې پښتون مړ وي.



د پاکستان مقتدرې طبقې دا ملک په جمهوري توګه او په مهذبه طريقه چلول نۀ غواړي، هغوي پاکستان په جټکو چلول غواړي په داسې توګه چې نۀ اولس سر اوچت کړي او نۀ د عزت او احترام جوګه شي. نن سبا ځينې معتبرو اخبارونو کښې د صدر زرداري خلاف يو زبردست مهم شروع دے. د پاکستان مقتدر قوتونه غالباً چې دا غواړي چې آئين کښې د ترميمونو نه اګاهو د زرداري فېصله وکړي شي چې داسې هغه د پښتونخوا په حواله غېر مؤثره کړے شي او دغه شان چې د صوبه سرحد نوم

بدلولو په غرض کوششونه کوم حد ته رسېدلي دي دا کوششونه ناکاره کړے شي.

د پاکستان مقتدر طاقتونه د پښتونخوا مخالفت هيڅ بې هيڅه نۀ کوي، هغوي پښتون په يوه صلاح د لاس لاندې ساتل غواړي.

د ريفرنډم عجيبه تجويز چې مسلم ليګ (ن) وړاندې کړے دا تجويز قابل عمل نۀ دے.

نړۍ کښې چرته هم د ريفرنډم په ذريعه د قام ملک يا علاقې نوم نۀ دے بدل شوے. لرې به نۀ ځو د موجوده حکومت وخت کښې د بې شمېره ځايونو نومونه د بې نظير په نامه کېښودلي شول، نۀ وړاندې ريفرنډم شوے او نۀ وړاندې مباحثه او نۀ حکومت په دې باب‌له د چا نه تپوس کړے. د يو ملک برما نوم ميانمار شوے هلته په دې خبره څۀ اختلاف نۀ ؤ او نۀ دغه نوم د ريفرنډم په ذريعه بدل کړے شو. پاکستان کښې د منټګمري نه ساهيوال جوړ شو او لائل پور فېصل اباد شو خو هيچا په دې ريفرنډم ونۀ کړو. په خپله د پاکستان نوم يو تن چودري رحمت علي خوښ کړو، چودري صېب ته هيچا دا مېنډېټ نۀ ؤ ورکړے چې د نوي جوړېدونکي هېواد دپاره نوم خوښ کړي.

بحر حال کۀ د ريفرنډم د تجويز هر کلے هم وکړے شي، سوال دا پېدا کېږي چې دا ريفرنډم به څوک کوي، څنګه به ئې کوي او دا ريفرنډم کوونکي به څنګه د پښتونخوا د مرستيالو او مخالفينو دپاره د باور او اعتماد جوګه وي. دا باور څنګه کېدے شي چې د پاکستان مقتدر قوتونه چې د پښتون د نوم نه کرکه کوي، هغوي به دې ريفرنډم کښې د لاس وهنې نه څوک منع کړي؟ بل دا ريفرنډم به د ملک په بنياد وي او کۀ صوبه سرحد پورې به محدود وي؟

پاکستان کښې چې د ريفرنډم په ذريعه کومې ټوقې ټقالې کولې شي دا چا ته نۀ دي معلومې. په دې وجه د ريفرنډم تجويز قابل عمل نۀ دے ځکه چې د پاکستان مقتدر قوتونه او د هغوي دلالان او د صوبه سرحد بوزغلي د ريفرنډم په ذريعه د خپلې خوښې نتيجې لاس ته کولے شي او ځکه هغوي د ريفرنډم تجويز هم وړاندې کړے چې په دې ذريعه هغوي نۀ يوازې د پښتونخوا غوښتنه څنګ ته ګوزارولے شي بلکې د صوبې د خلقو ترمينځه د همېشه دپاره د نفرت او کرکې زمکه هوارولې شي چې کله هم د صوبه سرحد د نوم خبره راشي د دې مخالفان د يو بېکاره او فضول دليل په بنياد دا نوم ردوي. دوي وائي چې اولس د مشکلاتو سره مخ دے، غمونو کښې ډوب دے، بې روزګاري ده، ناداري ده، ملک ته د دهشت ګردۍ مسئله پېښه ده، دې نه علاوه نورې ډېرې مسئلې دي چې هوارول ئې په ترجيحي بنياد ضروري دي او د صوبې نوم بدلول څۀ داسې ضروري نۀ دي او نۀ د نوم په بدلولو سره به د خلقو مسئلې هوارې شي. د پښتونخوا مخالفت کښې دغه ړاندۀ شوي خلق په دې خبره ځان نۀ پوهوي چې د



کومو مسئلو دوي ذکر کوي دا خو د پاکستان د جوړېدو نه وړاندې هم وې او اوس نورې سېوا شوې دي. دا ټولې مسئلې خو د پاکستان وفاقي حکومت جوړې کړې او د هغوي د پالیسو په نتیجه کښې پکښې نور شدت پېدا شوے دے او بیا دا کتل پکار دي چې د پاکستان اصل واکداران څوک دي؟ دې مسئلو کښې د پښتونخوا څۀ کردار دے؟ اولس او اقتصادي مسئلې خو امریکه کښې هم شته، برطانیه او فرانس هم داسې مسئلو سره مخ دي، روس او چین کښې هم اولس د بې شمېره مسئلو سره مخ دے. د پاکستان یا د افغانستان په څېر ملکونه خو هرومرو داسې مسئلو سره بدل شکل کښې مخ دي، مونږ د دغه دلیل په بنیاد دا وئیلے شو چې پاکستان د بې شمېره مسئلو سره مخ دے،اول دې دا مسئلې هوارې کړې او بیا دې د هندوستان نه کشمیر وغواړي. اولسونو او ملکونو ته د ژوند په هر وخت او هر مقام مسئلې پېښې وي او هغوي دا مسئلې په خپل وخت هواروي، وار په وار یو په یو دا مسئلې هوارېږي. د پښتونخوا مخالفان داسې څۀ وخت ټاکلے شي چې کله به د صوبه سرحد د نوم بدلولو دپاره مناسب وخت وي؟ پښتون خو دوي منې چې شته، دوه نیم کروړه پښتانۀ پاکستان کښې اباد دي. دوي د پښتون د نوم سره "خوا" ولې نۀ شي برداشت کولے. کۀ غور وکړے شي غوښتنه صرف د "خوا" ده



پښتون خو موجود دے او د پاکستان په هره کوڅه، هره اداره او هر یو دفتر کښې موجود دے او د ملک خدمت کوي. سربېره په دې خبره نۀ پوهېږي چې د پاکستان مقتدر قوتونه، د مسلم لیگ په شکل کښې د دوي دلالان او صوبه سرحد کښې د مسلم لیگ بوزغلي ولې د ملک او قام دپاره د پښتون خدمت هېروي او څۀ اهمیت ورته نۀ ورکوي. اوس اوس د ملاکنډ ډویژن څلوېښت لکه پښتنو د ملک او قام په فائده کښې او د سرکار په وېنا د خپلو علاقو او کورونو نه هجرت وکړو. دا یوه بې مثاله قرباني وه چې د پښتنو حیاناکې زنانه او پېغلې پکښې در په در شوې، بوډاګان او ماشومان بې درکه شول او عزت داره خلق د بل لاس او خېر ته مجبوره شول. دا په مختصر وخت کښې د نړۍ تر ټولو لوئے هجرت ؤ. دا د پاکستان دپاره د پښتنو قرباني وه په کار ده چې د دغه قربانو اعتراف وشي او پښتون ته چې د عدم اعتماد په کوم نظر کتلے شي دې کښې اصلاح وکړې شي.

پښتونخوا د صوبې د یو استوګن دپاره هم څۀ مسئله نۀ جوړوي. دې کښې څۀ شک نشته چې صوبه سرحد کښې پښتون ډېر لوئے اکثریت کښې دے او څوک چې ځان ته اقلیت وائي خو د اکثریت دعويٰ کوي د دغه اقلیتونو شمېر دولس فیصده هم نۀ دے. د

جمهوریت د کوم تعریف مطابق دولس فیصده یا زیات ته زیات پنځلس فیصده د اتیا یا پنځۀ اتیا فیصده نه سېوا وي؟

د صوبه سرحد دپاره د پښتونخوا د نوم په حواله د هزارې ډویژن ځنې سرداران د بلیک مېلنګ رویه او رجحان لري. هغوي د چا په لمسون د خرابو نتیجو خبرې کوي، د پښتونخوا خلاف د سخت ردعمل خبرې کوي خو هغوي ته دا کتل پکار دي چې هغوي تعداد کښې څومره دي او یو ډویژن په کلهم صوبه سرحد باندې په کوم حساب ځان بالا ګڼي او د پښتونخوا نوم کښې کوم لړمان دي چې کم شمېره خلقو ته به ټک ورکوي. کۀ خبره اتفاق رائې ته راشي نو دا سوال ضروري دے چې جواب ئې ورکړے شي چې پاکستان کښې کوم کارونه اتفاق رائې سره شوي دي؟ او بیا دا څنګه ممکن کېدے شي چې د پښتونخوا مرستیال او مخالفان به اتفاق رائې سره یو نوم خوښ کړي. مخالفان د پښتونخوا نه علاوه د افغانیه د نوم مخالفت هم کوي او د خپل طرف نه د خپلې خوښې نومونه وړاندې وړاندې کوي. داسې اتفاق رائې هله پېدا کېدے شي چې د پښتونخوا مرستیال او غوښتونکي د پښتونخوا د نوم نه لاس په سر شي او د مخالفانو تجویز شوي نومونه قبول کړي یا مخالفان خپل ضد او غېر معقول مخالفت واپس واخلي. داسې څۀ امکان نشته ځکه چې دا د پښتنو دپاره د هغوي د سیاست مخصوص ستائل دے. په دې وجه پښتنو ته په عمومي ډول او د پښتنو قامي قیادت ته په خاص توګه په دې خبره سوچ او فکر پکار دے چې د پښتون دپاره پاکستان کښې په عزت او درناوي سره څنګه او سېدل ممکن کېدے شي. پکار ده چې

د صوبه سرحد نوم پښتونخوا کړے شي او دې دپاره چې نن سبا کوم مناسب وخت راغلے دے داسې وخت بیا بیا نۀ شي راتلے او ځکه د دې نه چې په هره طریقه وي فائده اوچتول پکار دي. د پاکستان مقتدره قوتونو ته د دې کرښو په توسط دا خبره رسول دي چې کۀ دوي صوبه سرحد ته پښتونخوا نوم نۀ ورکولو کښې کامیاب هم شي پښتون به بیا هم پښتون وي. تېرو شپېتۀ کالو راهسې د صوبې نوم صوبه سرحد دے خو صوبې کښې داسې شل تنه نشته څوک چې ځان ته سرحدي وائي. بحر حال د مقتدره قوتونو منفي کوششونه پاکستان ته څۀ طاقت او توانائي نۀ ورکوي، دا د پاکستان وفاق کمزورے کوي او د همېشه دپاره د ملک او صوبې د مختلفو خلقو ترمینځه د کرکې او نفرت پېدا کولو سبب ګرځي. پښتونخوا د یوې پارټۍ غوښتنه نۀ ده، دا د بېداره، با شعوره او ننګیال اولس غوښتنه ده. دا د پښتون قومي شناخت دپاره یو اهم ضرورت دے. پښتون اولس باندې بد اعتمادي څۀ جواز نۀ لري او نۀ د صوبې دپاره د پښتونخوا د نوم غوښتنه څۀ داسې غېر معمولي مسئله ده چې پاکستان کښې به اړے ګړے پېدا شي او یا به د صوبې استوګنو ته څۀ خاص رعایتونه او اسانۍ ملاؤ شي. دا د خپل روح او مزاج په حواله یوه بې ضرره، غېر سیاسي او ماشومه او ساده غوښتنه ده. داسې هیڅ امکان نشته چې ګڼي دا به د ملک یا د صوبې کم شمېره تپو دپاره څۀ مشکلات پېدا کړي او ځکه مهذبه طور طریقې او مهذبه کوششونه د سیاست د وحشت نه قربانول نۀ دي پکار.